بسم الله الرحمن الرحيم

د جرمونو د څېړلو عدلي او قضايي سيستمونه

ليکونکي: ډاکتر محمد ظريف علم (ستانکزی)

په جزايي اجراآتو کې مختلف سيستمونه شتون لري چې د خپلو مشخصو ځانګړتياوو لرونکي دي، دغه سيستمونه په اتهامي، تفتيشي، اسلامي او مختلط ډول ويشل کېږي، چې په لاندې ډول هريو بيل بيل د توضيح وړ دي.

لومړی مطلب: اتهامي سيستم:

دغه سيستم جزايي دعواو ته د رسيده ګي ډېر پخوانی او دوديز روش دی، له ډېر پخوا زماني نه دغه سيستم په ټولنو کې شتون درلود.

د اتهامي سيستم ډېرې مهمې ځانګړتياوې دا دي:

۱. د تعقيبي مقام نه شتون:

په دغه سيستم کې کوم ځانګړی بنسټ يا ځانګړې مرجع د جرمونو د تعقيب چاره پرغاړه نه لري، بلکې د دعوې پر مخ وړل په اصـــل کې د شـــکايت کوونکي يا مجني عليه له خوا د دعوې د اقامې غوښتونکي ده.

دغه کار د جرم د خصوصي اړخ او د جرم د عمومي اړخ د نه تفکيک پايله ده، ځکه په دغه مهال کې اصـــل دا و چې جرم مخکې له دې چې دولت ته زيان او تاوان ورســـوي، مجني عليه ته يې زيان رسولی دی، دغه ځانګړتيا د اتهامي سيستم په راتلونکو تحولاتو کې له تحول سره مخ شوی دی.

۲. د دعوې پرمخ وړلو شفاهي والی:

د نورو دعواو په څېر د جزايي دعواو پرمخ وړل په لوســـتلو او ليکلو باندې د ټولنې د وګړو د ناپوهۍ له امله په شفاهي ډول ترسره کېده او شکايت کوونکي او تورن ببله دې چې له ليکونو څخه ګټه واخلي، د دعوې اقامه او دفاع کوله.

۳. د محاکمې علني والی:

په اتهامي ســيســـتم کې د جزايي دعواو پرمخ وړل په عمومي ځايونو يا د عوامو په بلنې ترســـره کېدو، په دغه سيستم کې تصور دا و چې عمومي محاکمه نه يوازې د قاضيانو په کړنو باندې د خلکو د څارنې سبب ګرځي، بلکې په هغو کسانو باندې چې لاتراوسه يې جرم نه دی کړی، منعه کوونکی اغېز هم لري.

۴. د دعوا د مخ وړلو ترافعي (پورته والی):

په دغه روش کې شکایت کوونکی او تورن د محاکمې په غونډه کې حاضرېږي او خپلې ادعاګانې او دلیلونه وړاندې کوي، په واقعیت کې په اتهامي سیستم کې د شکایت کوونکي او تورن ترمنځ او یا د هغو د قانوني استازو (مدافع وکیل) یو ډول قضایي او حقوقي د استدلال جنګ روان دی او د قاضي رول په اصل د دعوې د پرمخ وړلو د جریان مدیریت او په پای کې د شکایت کوونکي د دلیلونو او د تورن د دفاع ګانو د ارزونې له مخې د پریکړې (فیصلې) صادرول دي.

د تورن د اقرار په صورت کې د اتهامي طریقې د جزایي دعوې پرمخ وړلو په سیستم کې قاضي د حکم په صـــادرولو باندې اقدام کوي، بې له دې نه چې نورو دلیلونو او د شـــاهدانو شـــهادت ته وار رسېږي، څو د هغو له مخې د غوښتنې وړ تصمیم نیولې شي.

- **له تاریخي پلوه د اتهامي سیستم پراونه:**

اتهامي سیستم له تاریخي پلوه څلور پراوونه وهلي چې عبارت دي له:

۱ . د شخصي اتهام عصر؛

۲ . د خلکو د اتهام عصر؛

۳ . د قضایي اتهام عصر؛

۴ . د عمومي اتهام عصر.

لومړی: د شخصي اتهام عصر:

د شـخصـــي اتهام عصـــر د جزایي دعوې د اقامې ډېره پخوانۍ طریقه ده چې په لومړنیو ټولنو کې رواج وه، مجني علیه او د هغه ورثې ته دا اجازه ورکول کېده، څو د غچ اخیســـتنې په موخه د جرم د ترسـره کوونکي پر ضـد د مجازاتو غوښـتنه وکړي، شـخصـي اتهام تر ډېره د ټولنې د ګټې په پرتله د مجني علیه په ګټه و، یعنې د جزایي دعواو په اقامه کې د حق الله د ادعاکوونکي د رول په پرتله د حق العبد مدعي رول ډېر غښتلی و.

دویم: د خلکو د اتهام عصر:

د اتهام په دغه عصـــر کې د شـــخصـــي اتهام د عصـــر پرخلاف اتهام په زیانمن او د هغه په ورثې پورې منحصر نه و، بلکې ورثې یا د جرم د ترسره کوونکي ځای د سیمې له اوسېدونکو څخه یو کس ته د جزایي دعوې د اقامه حق ورکول کېده، څو د جرم د ترسـره کوونکي پر ضـد جزایي دعوه اقامه کړي، د اتهام دغه طریقه هم اغېزمنه نه وه، ځکه چې د جرم د ځای د ســـیمې اوســـېدونکو د جزایي دعوې په اقامه کې بې پروایي کوله، یا د رشـــوت او غچ اخیســـتنې د عواملو له مخې د جرم ترســـره کوونکي پر ضد جزایي دعو نه اقامه کېده، له دې پلوه د اتهام دغې طریقې هم نیمګړتیاوې درلودې.

درېيم: د قضايي اتهام عصر:

د قضايي اتهام په عصر کې لکه څرنګه چې له عنوان څخه معلومېږي، قاضي هم اتهام پورې کاوه او هم يې قضـــايي فيصـــله صـــادروله، د اتهام په دغې طريقه کې زيانمن او د هغه ورثه د قضـــيې له پرمخ وړلو او څېړنو څخه نه خبرېدل، ځکه د محکمې تر حکم پورې ټول اجراآت د محکمې له خوا ترسره کېدل، د اتهام دغې طريقې هم نيمګړتياوې درلودې، محکمه په دوو دندو بوختېده چې د جزايي دعوې له اقامې او پرېکړې څخه عبارت و چې له ځانګړې دندې ســـربېره محکمو د جزايي دعوې د اقامې صلاحيت هم درلود او همدارنګه د دعوې له تحريک څخه وروسته اجراآت په سري ډول پرمخ وړل کېدل، آن د حق العبد مدعي ته په دعوه کې د داخلېدو چانس نه ورکول کېده.

د تعريف له مخې د قضـايي اتهام عصـر په خپلو ځينو ځانګړتياوو کې له اتهامي سيستم سره توپير لري، په دې ډول چې د دعوې د اقامې لپاره ټاکلې مرجع شتون نه درلود، قاضي د پرېکړې سربېره د جزايي دعوې د اقامې صـلاحيت هم درلود، مګر د قضـايي غوښتو د سري والي او په دعوه کې د حق العبد د مدعي د نه مداخلې په ځانګړتيا کې د تفتيشـي سيستم په څېر دی، له دې مخې ويلای شو چې د قضايي اتهام په عصر کې نسبي اتهامي او نسبي تفتيشي مختلط سيستم رواج و.

څلورم: د عمومي اتهام عصر:

د عمومي اتهام عصـــر اوســـمهال په زياترو ټولنو او هېوادونو کې رواج دی او له هغه اتهام څخه عبارت دی چې د ټولنې او دولت په استازولۍ د مدعی العموم يعنې څارنوال له خوا د مجرم پر ضد د محکمو په وړاندې دعوه اقامه کېږي.

د عمومي اتهام په عصر کې د تفتيشـي سيستم ځانګړتياوې هم موندلای شو او هغه دا چې مشخصـه اداره او مشخص کس (څارنوال) د ټولنې په استازيتوب په مجرم باندې عمومي دعوه اقامه کوي.

دويم مطلب: تفتيشي سيستم:

جزايي دعوو ته د رسيده ګۍ تفتيشـي سيستم په اتهامي سيستم باندې ځينو نيوکو او ردونو ته له پامه وروسته د پام وړ وګرځېد، په اتهامي سيستم کې د دعوې تحريک د شـکايت کوونکي حق او واک دی، سره له دې چې ځيني جرمونه او زيانونه د ټولنې د ګټو پرضد پېښېدل، خو د شکايت کوونکي د نه تمايل په صـورت کې د جرم د تعقيب په موخه کومې مشـخصـې مرجع شـتون نه درلود، سـربېره پر دې په اتهامي طريقه کې د غيرمسلکي قاضـيانو شتون د نوو ټولنو پېچلتياوو او اړتياوو ته په پام سره د پام وړ نه و، بلکې د مسلکي قاضـيانو د شتون اړتيا اړينه وګڼل شوه، همدارنګه په جزايي چارو کې د دولت د لاسوهنې پراختيا او د جرم د عمومي اړخ ودې سره جرمونو ته د رسيده ګۍ د سيستم د بدلون اړتيا هم د پام وړ وګرځېده، په پايله کې تفتيشـي سيستم په ځانګړي ډول په منځنيو پېړيو کې د کليسا د کړنو تر اغېز لاندې جزايي دعوو ته د رسيده ګۍ د برلاسي روش په توګه وده او پراختيا وموندە او د دغه سيستم

ډېرې مهمې ځانګړتياوې دا دي:

۱ . د قاضيانو مسلکي والی:

په دغه سيستم کې قاضي مسلکي کس دی او د اتهام د سموالي او ناسموالي په څېړنه کې فعال رول په غاړه لري، د اتهامي سيستم پر خلاف چې په هغه کې قاضي انفعالي نقش لري او د هغه اصلي دنده د دليلونو ارزونه ده.

۲ . د قاضي او څارنوال وحدت:

د تفتيشي سيستم په لومړني شکل کې قاضي نه يوازې د دعوې د پرمخ وړلو دنده په غاړه درلوده، بلکې د اتهام د تعقيب د مرجع او مقام په توګه يې هم دنده ترسره کوله، دغه کار د شکايت کوونکي يا مجني عليه د واکونو د کمښت او په پايله کې خصوصي مدعي ته د اوښتي زيان او تاوان د جبران په موخه د خصوصي دعوې د اقامې د امکان رامنځته کېدو سبب ګرځېدلی دی.

۳ . د اجراآتو ليکل:

د علم او ليکوالۍ وديې سره د ليکلې محاکمې د ترسره کولو او د هغې د ثبت امکان برابر شو او د همدې په پايله کې د جزايي دعواو د رسيده ګی ټول پراوونه ليکل، ثبت او ضبطېدل.

۴ . د محاکمې پټوالی (سری والی):

د تفتيشي سيستم وتلې ځانګړتيا دا ده چې د جزايي دعوې پرمخ وړلو په کړنو باندې د ګڼو نيوکو د کموالي سبب ګرځي، او عام خلک د محکمې له اجراآتو ناخبره پرېښودل کېږي چې په دغه طريقې سره قاضيان د عدالت په تطبيق کې بې پروا وي ولې چې د عامه خلکو له نظر نه د قاضي د عدالت تمجيد و د بې عدالتي نقد شتون نلري، قاضي د پټو دروازو شاته هرڅه بې چې زړه وغواړي هغه د قضاوت له واک نه په ګټه اخيستلو سره کولی شي.

۵ . د دعوا د مخ وړلو نه ترافعي (نه پورته والی):

د دعوې پرمخ وړلو نه ترافعي والی د تفتيشي سيستم ډېره مهمه ځانګړتيا ده، په دغه سيستم کې تورن له پورې شوي تور او د هغه پرضد د راټولو شوو دليلونو له کيفيت څخه خبر نه دی، د تورن د اتهاموله په موخه د مدافع وکيل د اغېزمن حضور امکان پدغه سيستم کې شتون نه درلود، دغې ځانګړتيا د تورن د دفاع حق له سخت ګوابښ سره مخ کړ او د جزايي عدالت د اجرا په تاريخ کې د ګڼو تاريخي نادودو د رامنځته کېدو سبب ګرځېدلی دی .

په تفتيشي سيستم کې د متهم اقرار د جرم د اثبات مهم دليل ګڼل کېده او د هغه د ترلاسه کولو لپاره له ځورولو او شکنجه کولو څخه کار اخيستل يو معمول او آن روا او قانوني کار ګڼل کيدو، دغې ځانګړتيا د (انګيزسيون) په نوم د عقايدو د تفتيش په محکمو کې په ډېره پيمانه شتون درلود چې کليسا له عيسوي دين څخه د ارتداد په تور د تورنو د محاکمې په موخه تري ګټه اخيسته.

او حتی یو شمیر عقایدو شتون درلود چې د تورن د اقرار او د مجرم د مجازاتو لپاره ېې د انساني طاقت نه لوړ مجازات ورکول لکه په صـــلیب زړول، میخکوبول، په اور کې اچول، تیل داغول او داسـي نوري شـکنجي او زوروني او کله به چې تورن او یا مجرم د شـکنجو او زورونو له کبله چیغي کولي نو ویل کیدل به چې دغه چیغي د دغه تورن او مجرم ندي بلکې د خبیثه ارواح دي چې د مجرم په وجود کې ننوتي او هغه ېې د جرم ارتکاب ته هڅولی چې دغه نظریه زیاتر د طبعي حقوقو مکتب د میتافزیک برخه کې په جرمي اړخ کې باور درلود.

درېیم مطلب: اسلامي سیستم:

د اسلام حقوقي سیستم د انسانانو د ټولنیز ژوند لپاره یو جامع سیستم دی، په ټولنه کې د عدالت د رامنځته کولو لپاره په حقوقي اړخونو کې جامع حکمونه چې د الله تعالی د وحیي له اصـــولو څخه سرچینه اخلي، شتون لري، د جزایي اجراآتو د اصولو په برخه کې هم ځانګړي حکمونه لري.

۱ . د اجراآتو کتبي والی:

قضـایي تصـمیم په لیکلي ډول د خلفای راشـدینو په زمانه کې نه لیکل کېده، ځکه چې قاضـیانو په خپله پربکړه نافذوله او د پربکړې لیکلو او کتابت ته اړتیا نه احسـاسـېده، مګر کله چې د خلکو انکار ډېر شـو، له همدې امله د پربکړو لیکلو او تدوین ته اړتیا پیښـه شـوه، څو د هغې یوه نسـخه محکوم له ته ورکړي او یوه نسخه له قاضي سره په دیوان کې وساتل شي.

د لومړي ځل لپاره د قضایي پربکړو په تدوین او لیکلو د مصر قاضي سلیم بن عتر لاس پورې کړ او د معاویه بن ابي سـفیان د خلافت په مهال کې یې د میراث قضـیه فیصـله کړه، وروسـته محکوم له انکار وکړ او ببرته یې قاضي ته مراجعه وکړه، قاضي دویم ځل پربکړه وکړه او پربکړه یې تدوین او ولیکله.

ځینې عالمان د قضـایي پربکړو لیکل او تدوین د تکلیفي حکم له مخې مستحب او ځینې عالمان یې په هغه صورت کې غوره ګڼي چې مدعي علیه د هغې لیکل او تدوین ونه غواړي.

د امام غزالي (رح) په نظر د پربکړې لیکل او کتابت دوه حکمونه لري، که د حق خاوند غوښـــتنه وکړي، د قضـایي پربکړې لیکل او تدوین واجب، که نه مسـتحب دی، مګر ځینې عالمان لکه سـحنون او ابن فرحون د محکوم له د غوښتنې په صورت کې د پربکړې لیکل او تدوین حتمي واجب ګڼي.

ځینې عالمان وایي چې د ماشومانو، لېونې او غایب په قضیو کې د قضـایي پربکړې لیکل او تدوین حتمي واجب دی.

د کنز الدقایق په کتاب کې هم د قاضـي د حکم لیکل، تحریر او تسـجیل په ډاګه شـوی دی او د کنز الدقایق د متن په شرحه کې د بحر الرایق کتاب داسـي توضـیح کوي: (د قاضـي د پربکړې تسـجیل او لیکل هغه دلیل دی چې په هغه کې د قاضي حکم لیکل شوی دی).

د اسلامي فقهې د پورتنيو څرګندونو له مخې د قضايي پرېکړو د تسجيل، ليکلو، تدوين، کتابت او تحرير حکم غوره او په ځينو حالتونو کې واجب دی، د افغانستان قوانينو هم د فقهاوو د نظرونو په پيروۍ د محکمو تصميمونه د ليکلو له مخې په ليکلي ډول تصريح کړي دي او په قاضي يې لازمه ګڼلې ده، څو خپل تصميم وليکي او تدوين کړي، د افغانستان د قوانينو له مخې محکمه خپل تصميم په دوو ډولونو (د قضايي قرار او د قضايي پرېکړې په ډول) نيسي، نو دواړه تصميمونه بايد تسجيل او وليکل شي.

۲ . د قضايي غوندو علني والی:

په اسلام کې د عدالت د تامينولو لپاره ډېر پام د قضايي غوندو علنيت ته شوی دی، اسلامي عالمان په دې تاکيد کوي چې د قضاء محل بايد د جوماتونو په څېر په عام ځای کې وي، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هم په نبوي جومات کې د شخړو د حلېدو په اړه د طرفينو ترمنځ حکم کاوه.

د قضايي غوندو د علنيت په اړه فقهاء هم نظرونه لري چې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

د قضايي غوندو د علنيت موضوع نه يوازې په اوسمهال کې په قوانينو منعکسه شوې ده، بلکې د فقهاوو نظرونو هم په علني ډول د قضايي غوندو په اړه حکم کړی دی او په اسلامی شريعت کې اصل دا دی چې قضايي غوندې بايد علني وي.

د قضايي غوندو په علنيت نه يوازې په اوسمهال کې معاصر فقها تمرکز لري، بلکې د نورو فقهاوو او مجتهدينو مخکې هم په دغه اصل تاکيد کړی دی:

امام شافعي (رح) په خپل کتاب (الام) کې داسې حکم کوي: (بأن الحکم لا يکوون ألا علانية) په يقين سره د قاضي حکم بايد علني وي.

د قضايي غوندو د علنيت نظريه د يو اصل په توګه لومړی په اسلامي فقه کې رامنځته شوې وه، وروسته نور ملتونو هم دغه اصل له اسلام څخه اخيستی دی، لکه څرنګه چې وتلي موضوعه حقوقپوهان لکه (آدم، منز او کانت) په دغه اصل باور درلود چې قضايي غوندې بايد علني وي.

د اسلامي حقوقپوهانو له جملې څخه دکتور احمد شبلي وايي: (په اسلامي قضا کې اصل د قضايي غوندو علني والی دی او د عملي کېدو پيلامه يې په اسلامي فقه کې ډېره ليدل کېږي، لکه په جوماتونو او عامو ځايونو کې قضاء، په کور کې د قضاء منعه، د قضاء په غونډه کې د پردې د نيولو منعه).

په ځينو حالتونو کې لکه د کورنۍ، ماشومانو او د عامه نظم په قضيو کې د قضايي غوندو د سري والي په اړه فقه او د افغانستان قوانين د فقهي په پيروۍ کړي ده چې په دې اړه د دکتور محمد عبدالرحمن البکر پخپل کتاب (السلطة القضائيه و شخصية القاضي فی النظام الاسلامي) داسې وايي:

(د کورنۍ د رازونو د ساتنې او پټېدا او د عامه ادابو د مراعت کولو په څېر ټاکلي حالتونه د قضايي غوندو د سري والي غوښتنه کوي، په دغو حالتونو کې قاضي بايد غوندې په سري ډول دايرې

کړي.

په دې اړه د هغې ښځې په قضیه استدلال کوي چې قاضي شریح ته یې وړاندې کړې وه او قاضي ته یې ویلي و چې زه تاته په دعوه راغلې یم، قاضي شریح ورته وفرمایل چې ستا مدعي علیه چېرته دی، ښځې وفرمایل چې ته زما مدعي علیه یې، قاضي شریح د قضاء غونډه پرېښوده او ښځې ته یې وفرمایل، د خپلې دعوې په اړه خبرې وکړه ..... وروسته له هغه ښځې وویل، په کومه موضوع کې چې هغه راګیره ده، دا ده چې هغه شنډه او واده یې کړی دی...)

له پورتنۍ پېښې څخه چې د قاضي شریح په وړاندې مطرح شوې وه، دا په ډاګه کېږي چې یاده قضیه د کورنۍ په اړه وه او قاضي شریح د کورنۍ د راز ساتنې لپاره غونډه سري جوړه کړه.

۳ ـ د قاضیانو مسلکي توب:

په اسلامي سیستم کې د قاضي یو شرط د شرعي قضاوت په علم باندې د قاضي مسلکي توب دی.

د قضاوت په مسایلو کې د قاضي علم د آنحضرت صلی الله علیه وسلم له دغه حدیث څخه هم استنباطېږي:

(القضاء ثلاثة: واحد فی الجنة و أثنان فی النار، فاما الذی فی الجنة فرجل عرف الحق، فقضی به و رجل عرف الحق و جار فی الحکم فهو فی النار، و رجل قضی الناس علی جهل فهو فی النار). ([1])

ژباړه: (پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: قاضیان درې ډوله دي: یوه ډله یې په جنت کې ده او دوه ډله یې په دوزخ کې، هغه قاضي چې په جنت کې دی، هغه څوک دی چې په حق پوهېږي او په حقه قضاوت کوي او کوم کس چې په حق پوهېږي او په حقه پرېکړه نه کوي، دغه قاضي په دوزخ کې دی او څوک چې د خلکو په منځ کې د ناپوهۍ او جهل له مخې قضاوت کوي، نو دغه قاضي هم په دوزخ کې دی).

د حدیث په متن کې ژغورل شوی قاضي هغه قاضي دی چې په حق پوهېږي او په حقه پرېکړه کوي، یعني د قضاء په مسایلو باندې عالم دی، همدارنګه هغه قاضي یې راپېژندلی دی چې ناپوه دی او د قضاء علم نه لري، د دغسې قاضیانو لپاره هم سخت ګواښ دوزخ دی، نو د قاضي لپاره لازمه ده چې عالم وي.

د فقهاوو په منځ کې د غور او اختلاف وړ ټکی د قاضي لپاره د اجتهاد شرط دی.

مالکیان، شافعیان، حنبلیان او ځینې حنفیان د قاضي لپاره دا شرط ګڼي چې هغه باید مجتهد وي.

مګر ډېرې احناف د قاضي لپاره اجتهاد شرط نه ګڼي، بلکې دا لازمه ګڼي چې قاضي باید د قضاء په مسایلو عالم وي، ولو که د بل د اجتهاد او بل مجتهد او مفتي له فتوا څخه تقلید وکړي.

---

[1] - رواه ابن ماجه او ابوداود، عن بریدة (نیل الاوطار، ج ۸، مخ۲۶۳).

په هر حال ټول فقهاء په دې یوه خوله دي چې قاضـــي باید په فقي قضـــایي مســـایلو او معاصـــرو علومو باندې عالم وي، څو د طرفینو ترمنځ عدالت تامین کړي، که چېرې قاضـــي په قضـــایي مســـایلو باندې عالم نه وي، نه شـــي کولای چې د طرفینو ترمنځ عدالت تامین کړي، ځکه چې ناپوهي د عدالت د تامینولو خنډ ګرځي.

د افغانســتان د قضــایي عدالت په ســیســتم کې د قاضــي لپاره دا لازمه ده، څو په فقهي مســایلو، د افغانســتان په نافذو قوانینو او د ټولنې په دودونو باندې پوره پوهه ولري او همدا راز باید په معاصــرو مسایلو هم پوره پوه هم شرط ګڼل کیږي ځکه چې په قضاوت کې له دغو سرچینو څخه د خپلو پرېکړو په صادرولو کې ګټه اخلي.

۴ . د دعوا د مخ وړلو ترافعي (پورته والی):

اســلامي شــریعت د طرفینو یو حق د قاضــي په وړاندې مدافعه ګڼي، اســلامي شــریعت د طرفینو د مدافعې په اصل باندې تاکید کړی دی، لکه څرنګه چې په دې اړه له حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې د اســلام ســتر پیغمبر صــلی الله علیه وســلم چې کله هغه یمن ته د قضــاوت په موخه واســتوه، ورته یې وفرمایل: (کله چې ستا مخې ته دوه کســه مخالف کېناســتل، د هغوی ترمنځ تر هغو قضاوت مه کوه، څو یوه د بل خبرې اورېدلې نه وي).

همدارنګه ابوموسی اشعری رضی الله عنه ته چې د کوفې قاضی و، د عمر رضی الله عنه په لیک کې په دې تاکید شــوی (ایاک الغضــب والقلق والضــجر) یانی دا چې ځان له غضــب او قلق څخه وژغوره.

امام ســرخســي قلق په طرفینو باندې محدودیت ژباړلی دی همدارنګه د طرفینو په وړاندې د خپل غږ له لوړوالي څخه ډډه وکړه، همداراز قاضــي باید په طرفینو باندې د په بېړه خبرو کولو تاکید ونه کړي، هسې نه هغوی د عجلې له امله د خپل دلیل او حجت له راوړلو څخه بېوسه شي.

فقهاوو په قضــایي غونډه کې د طرفینو د خبرو په اړه ډېر تاکید کړی دی، تر هغو یې قاضــي ته د پرېکړې کولو اجازه نه ده ورکړې، څو له مقابل لوري څخه دا پوښــتنه ونه کړي (ألک بینة) آیا له تا سره شاهدان شته یا ورته دا وویل شي: (بقیت لک حجة) ایا له تا سره بل دلیل شته که مخالف وویل، هو، له ما سره بل دلیل هم شته، نو قاضي مکلف دی، څو د هغه نظر او دلیل واوري.

د پورتنیو دلیلونو له مخې فقه هم په دې تاکید لري چې قاضــي باید مخالفینو ته دا اجازه ورکړي، څو د یو بل د دلیلونو په وړاندې نظر څرګندونه او مدافعه وکړي.

ام سلمه رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: (قال أنما أنا بشرٌ و أنکم تختصمون ألی فلعل بعضکم أن یکون بحجته من بعض فأقضی له، و أنما أقضی علی نحو ما أسمع منه

فمن قضيت له بشيءٍ من حق أخيه، فلا يأخذن منه شيئاً فانما أقطع له قطعة من النار) ([۲])

ژباړه: (پیغمبر (ص) فرمایي: زه هم بشر یم او هرکله چې تاسو ماته د شخړې په اړه راغلئ، شاید په تاسو کې ځینې له ځینو نورو څخه په خپله لهجه کې ډېر خوله ور وي او زه د هغه لپاره حکم وکړم چې لهجه یې تېزه ده او زه په هغه څه حکم کوم چې اورېدلي مې دي، نو که ما ستاسو د ورور له حق څخه په کوم شي حکم وکړ، نو تاسو هغه شی مه اخلئ، ځکه چې هغه په باور سره د اور ټوټه ده).

فقها په دې اړه دا وایي چې قاضي نه شي کولای، په خپل علم قضاوت او حکم وکړي، نو د قاضي لپاره په خپل قضـــاوت کې دا لازمه ده، څو په هغو دلیلونو باور او تکیه وکړي چې د طرفینو له خوا ورته وړاندې او مطرح کېږي.

همدا راز په جزایی قضــیو کې په اســلامي فقه کې د مدافع وکیل شــتون چې په حقوقي او قانوني علومو ســمبال او پوه وي هم جواز لري د دعوې دواړه اړخه حق لري چې د خپلې قضــیه د مخکې وړلو لپاره مدافع وکیل ونیسي په ځانګړي ډول تورن کولی شي چې د ځان لپاره مدافع وکیل د قضیه په مختلفو پړاونو کې ولري، ولې چې د محکمې یو اړخ څارنوال وي او بلخوا کچیري تورن وي او په حقوقي او قانوني مواردو باخبر نه وي او یا د تور له وجهې په خپلواک ډول دفاع نشي کولی پس د مدافع وکیل شتون د عدالت د تطبیق لپاره اړین ده تر څو د لوړ والي خصوصیت چې هر اړخ د دعوې غواړي تر څو په قضــیه کې لوړ والي په قانوني اســتدلال ســره د محکمه پر وړاندې حاصــل کړي موجود شي.

څلورم مطلب: مختلط سیستم:

مختلط سیستم له هغه سیستم څخه عبارت دی چې د یادو دري سیستمونو له انتخابونو څخه ځینې د جزایي اجراآتو اصول انتخاب او په یو سیستم کې ګډېږي چې دغه سیستم ته مختلط سیستم وایي.

لکه څرنګه چې ځینې هېوادونه د افغانســتان په ګډون د جزایي اجراآتو په اصــولو کې له مختلط سیستم څخه پیروي کوي.

هغه ځانګړني چې له پورتنیو سیستمونو څخه د افغانستان د جزایي اجراآتو په اصولو کې رواج دي، دا دي:

۱. د جزایي دعوې د اقامې لپاره مشخصه مرجع شتون درلود چې هغه لویه څارنوالۍ وه چې اوس متاســفانه د دولت له تشــکیلاتو څخه حذف شــوي ده او ما په یوې بلې مقالې کې د څارنوالي

[۲] - اخرجه البخاری فی کتاب الشهادة و اخرجه النسائی، حدیث ۵۴۰۳، باب الحکم باالظاهر.

ضرورت د اسلامي شريعت له احكامو سره رانغاړي ده.

دغه ځانګړنه له تفتيشـي سـيسـتم څخه د افغانسـتان د جزايي اجراآتو د اصـولو سـيسـتم ته داخله شوي ده.

لکه څرنګه چې د افغانستان اساسي قانون (۱۳۴) ماده په دې اړه صراحت لري.

۲. د اجراآتو کتبي والی، دغه ځانګړتيا د اسـلامي حقوقو له سـيسـتم او له تفتيشـي سـيسـتم څخه د افغانستان د جزايي اجراآتو د اصولو سيستم ته داخله شوي ده، لکه څرنګه چې د جرم د کشف په پراو کې د احضـــارولو، د اســـتنطاق د طريقې، د تحقيق په پراو او د تحقيق په پای کې د ليکلي اســـتجواب په اړه، د جرم د اثبات په صـــورت کې، د تحقيق د څارنوال له خوا د اتهامنامې د جوړولو، ورپســـې د محکمې په وړاندې د څارنوال له خوا د صـــورت دعوې د برابرولو ، بيا د قضـيې په اړه د دري واړو محکمو د پرېکړو د صـادرولو په برخه کې د جزايي اجراآتو د قانون زياتره حکمونه ليکلي او کتبي دي، په ټوله کې جزايي دوسـيه د جرم د کشـف له پراوه د جزايي اجراآتو د پروسې ترپايه پورې ټول په ليکلي او کتبي ډول ترتيبېږي.

۳. ترافعي او يا تدافعی والی د اسلام د حقوقي سيستم او د اتهامي سيستم د ترافعي والي او تدافعي والي ځانګړتيا د افغانستان د جزايی اجراآتو په اصولو کې ننوتې ده، د دغې ځانګړتيا مصداق د افغانســـتان اســـاســـي قانون او د جزايي اجراآتو په قانون کې ليدل کېږي، نو د محاکمې د دوو بنسـټيزو رکنونو په توګه د څارنوال او د مدافع وکيل شـته والی او د هغوی ترمنځ د دعوې د اقامې جرو بحث او د دعوې دفعه دا ثابتوي چې د تدافعي والي او ترافعي والي ځانګړتيا د افغانستان د جزايی اجراآتو په اصولو کې شتون لري.

۴. د قضـايي غونډو علني والی هم هغه ځانګړتيا ده چې د افغانسـتان د جزايي اجراآتو اصـولو هغه د اسـلام له حقوقي سيسـتم او اتهامي سيستم څخه د جزايي اجراآتو په اصـولو کې ځای ورکړې ده.

په دې اړه د افغانستان د اساسي قانون (۱۲۸) ماده د قضايي غونډو علنيت په ډاګه کوي.

۵. د قاضـيانو مسلکي والی هم د جزايي اجراآتو په اصـولو کې د اسلام له حقوقي سيسـتم او له تفتيشـي سيستم څخه د افغانستان د جزايي اجراآتو په اصولو کې ځای شوی دی، په دې اړه اسلامي شريعت ډېر تاکيد کړی او د افغانسـتان قوانينو له اسـلامي شـريعت څخه په دې اړه ډېر تاکيد کړی دی، لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، د دغې ځانګړتيا په اړه د افغانستان قوانين د قاضـي سلک ته د داخليدو يو شرط د شرعياتو او حقوقو له پوهنځيو څخه د فراغت د سند لرل او همدا راز د ستاژ مسلکي دوري پای ته رسول شرط ګڼلی دی.

سرچيني (منابع):

١. قرآنكريم؛

٢. البخاري ابو عبد الله محمد بن اسماعيل (صحيح البخاري)

٣. شوكاني محمد (نيل الاوطار) ج ٨؛

٤. عبدالمالک جندي (ا لموسوَّعة الجنايية) ج ٣ ؛

٥. البكر محمد بن عبدالرحمن (لسلطة القضاييية و شخصية القاضي) ؛

٦. الماوردي ابى الحسن على بن محمد (آداب القاضي) ج ٢

٧. ابن فرحون ابراهيم بن على (تبصرة الحكام)؛

٨. الرملي شمس الدين محمد (نهاية المحتاج) ج ٨

٩. النسفي حافظ الدين (بحر الرايق شرح كنزالدقايق) ج ٧

١٠. الشافعي محمد بن ادريس (الام) ج ٦

١١. د. الزحيلي وهبة (فقه اسلامي و ادلته) ج ٧

١٢. په افغانستان کې د جزايى عدالت حقوقي اصول؛

١٣. عدليي وزارت (٨١٨) رسمي جريده كال ١٣٨٢ هـ ل (اساسي قانون)

١٤. عدليي وزارت (١١٣٢) رسمي جريده كال ١٣٩٣ هـ ل (جزايى اجراتو قانون)

دغه بحث د جزايي اجراتو او محاكمو اصول له كتاب نه اخيستل شوي ده

مولف: ډاكتر محمد ظريف علم (ستانكزى)